خپل لاس دې د بدن پر دردمن ځای کېږده او درې ځلې بسم الله او اووه ځلې دا دعا ووایه: «أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ».زه پر الله او د هغه په قدرت د هغه څه له شر څخه پناه نیسم چې زه یې مومم او ترې وېرېږم

له عثمان بن ابی العاص الثقفي رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له هغه درد څخه شکایت وکړ چې په ځان کې یې له هغې ورځې څخه درلوده چې اسلام یې راوړی و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: "خپل لاس دې د بدن پر دردمن ځای کېږده او درې ځلې بسم الله او اووه ځلې دا دعا ووایه: «أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ».زه پر الله او د هغه په قدرت د هغه څه له شر څخه پناه نیسم چې زه یې مومم او ترې وېرېږم».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

عثمان بن أبی العاص رضي الله عنه ته داسې یو درد ورسیده چې نږدې وه له منځه یې یوسي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې پوښتنې ته ورغی او داسې دعا یې وروښوده چې الله تعالی به ترې ناروغي پورته کړي؛ هغه دا چې په دردمن ځای لاس کېږدي او درې ځلې (بسم الله) ووایي او بیا اووه ځلې ووایي چې (أعوذُ) یعنې پناه نیسم، ځان پیاوړی او کلابند کوم (بالله و قدرته من شرما أجد) په الله او د هغه پر قدرت باندې د هغه څه له شر نه چې زه یې مومم) یعنې هغه درد چې اوس مهال یې مومم (و أحاذر) او په راتلونکي کې ترې وېره لرم لکه خفګان او وېره، او یا دا چې دا ناروغتیا دوامداره شي او درد یې په ټول بدن کې خپور شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6018